مجیب الرحمن ساپی ۲۰۱۲/۰۳/۲۹

# باګرام زندان او ننګوني

له هغه وروسته، چې د ۱۳۹۰ کال په لړم میاشت کې دودیزې لویې جرګې له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو د تړون لاسلیک کولو شرایط وړاندې کړل، نو په دغو شرایطو کې یو یې هم افغان دولت ته د ټولو زندانونو د چارو سپارل شامل وو.

د دودیزې جرګې د شپږ اویا ماده‌ییز پرېکړه لیک په دیارلسمه ماده کې راغلي: (امریکا نه شي کولای د افغانستان د ملي شورا په اړوندو چارو، سیاسي جوړښتونو او قضایي چارو کې لاسوهنه وکړي او <u>د افغانستان په خاوره کې جیل (بندیخانه ولري. له دې امله د ټولو امریکایي جیلونو مسوولیت، چې د افغانستان په خاوره کې شتون لري، ژر تر ژره دې له ټولو زندانیانو سره د افغانستان حکومت ته وسپارل شي.)</u>

له دغې پرېکړې څخه وروسته افغان حکومت هم له امریکا سره د ستراتیژیک تړون لاسلیک کولو شرایط، چې په افغانستان کې د امریکایي زندانونو نشتون او د شپې له لوري د عملیاتو درېدل وو وړاندې کړل؛ خو په لومړیو کې امریکا دغه شرایط نه منل، چې بالاخره د افغان حکومت له لوري د زیاتو فشارونو له امله د روان ۲۰۱۲ زېږدي کال د مارچ په میاشت کې د ملي دفاع وزیر عبدالرحیم وردک او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د لوی قوماندان جنرال جان آلن د باګرام د زندان د چارو سپارلو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې به یې د شپږو میاشتو په اوږدو کې افغان ملي پوځ ته د دغه زندان چارې سپارل کیږي.

اوس مهال د ولسمشر حامد کرزي له لوري د باګرام زندان د چارو سپارلو لپاره جنرال غلام فاروق بارکزی د مسوول په توګه ټاکل شوی دی. افغان ولسمشر ښاغلي بارکزي ته لارښوونه کړې، چې د بندیانو د بې ګناه ثابتیدو په صورت کې دې دوی دې آزاد کړي. خو افغان حکومت ته د باګرام د زندان د چارو سپارلو د تړون په جزیاتو کې راغلي، چې د دغه زندان افغان چارواکي باید د هغو زندانیانو له آزادېدو څخه، چې اوسمهال په دغه زندان کې بندیان دي امریکایان خبر کړي او د امریکایانو شونی مخالفت دې ومني. په جزیاتو کې راغلي، افغان لوري ژمنه کړې، چې امریکایانو ته به اجازه ورکوي، څو له زندانیانو څخه لیدنه وکړي.

څه موده وړاندې د باګرام زندان او د دغه زندان شرایطو په اړه د سره صلیب نړیوالې کمیټې یو رپوټ خپور کړ. په دغه رپوټ کې له بندیانو سره د ناوړه کړنو خبر ورکړل شوی وو. په رپوټ کې همدا راز د بندیانو د شمیر زیاتوالي، د دوی د بدو حالاتو، د افرادو بندي کولو لپاره د کره معلوماتو نشتون، په نامناسبو کې خونو کې د بندیانو ساتل کیدل راغلي وو. سره صلیب په خپل رپوټ کې ویلي وو، چې حتی ځینې بندیان له تورنو او مدافع وکیل پرته له پنځو کلونو را په دېخوا په باګرام زندان کې بندیان دي.

همدا راز د حکومت له لوري د تیر ۱۳۹۰ کال د مرغومي په میاشت کې د باګرام زندان حالاتو څېړلو په موخه د حقوقي کمیټې په رپوټ کې راغلي وو، چې د باګرام زندان ۲۷۰۰ تنه بندیان د محاکمې له ځنډېدو، له مدافع وکیلانو سره د خبرو اترو د مخنیوي خبر ورکړی او ویلي یې دي، چې د دغو زندانیانو ډېرى شمیر د خپل نیولو په جرم هم خبر نه دي او ډېرى کسان یې وهل کیږي او حتی مقدساتو ته یې سپکاوی کیږي.

افغان حکومت غواړي، له یوه لوري د ستراتیژیک تړون لاسلیک کولو لپاره د دودیزې لویې جرګې پرېکړې په پام کې ونیسي، څو د ملت تر فشار لاندې را نه شي او له بل لوري د باګرام زندان د چارو په تر لاسه کولو سره له وسله والو طالبانو سره د خبرو اترو مشرې وکړي.

له کله، چې وسله والو طالبانو له امریکا سره خبرې اترې پیل کړې او افغان حکومت ته یې شا کړه، نو د حامد کرزي اداره د دې په لټه کې شوه، څو د یوه امتیاز په توګه داسې څه تر لاسه کړي، چې د وسله والو طالبانو پام ځان ته را جلب کړي له همدې امله یې خپل ټول پام د هغو زندانو چارو تر لاسه کولو ته واړاوه، چې د بهرنیو په ځانګړي توګه د امریکا


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تر کنټرول لاندې دي، چې په دغه چاره کې تر یوه بریده بریالی هم وو؛ خو تر دې مهاله نه توانیدلی، څو د وسله والو طالبانو پام ځان ته واړوي.

د ولسمشر لاربښوونو ته، چې ښاغلي بارکزي ته کړې او هغه دا، چې بې ګناه بندیان خوشې کړي او له بل لوري د ملي دفاع وزیر او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د لوی قوماندان د لاس لیک شوي تړون جزیاتو ته په کتو سره لیدل کیږي، چې د دغو لاربښوونو او د تړون جزیاتو ترمنځ اختلاف شتون لري. په تړون کې راغلي، چې د دغه زندان افغان چارواکي باید د هغو زندانیانو له آزادیدو څخه، چې اوسمهال په دغه زندان کې بندیان دي امریکایان دې خبر کړي او د امریکایانو شونی مخالفت دې ومني. دغو ټکو ته په پام سره د زندان چارې به له افغان حکومت سره وي؛ خو د بندیانو خوشې کیدل به د امریکایانو په لاس کې وي.

که چیرې افغان دولت و توانیږي، چې تر راتلونکو شپږو میاشتو د دغه زندان چارې تر لاسه کړي، نو باید له یوه لوري د بندیانو د وضعیت په ښه کیدو کې جدي پاملرنه وکړي او له بل لوري باید له امریکا سره دا سپینه کړي، چې د زندانیانو د خوشې کیدو واک دې هم افغان دولت ته وسپارل شي، څو وکولای شي په واقعي توګه ملي حاکمیت ټینګ او د ولس غوښتنو ته یې ځواب ویلی وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ